جمهورية مصر العربية | ٢٢ذي الحجة ١٤٤٠هـ
وزارة الأوقاف | لغة البشتو | ٢٣ اغسطس ٢٠١٩م

(١)

## ملګرتيا او د انسان په شخصيت جوړونه کې د هغې اغيزې

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکې دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **(ٱلۡأَخِلَّآءُ يَوۡمَئِذِۭ بَعۡضُهُمۡ لِبَعۡضٍ عَدُوٌّ إِلَّا ٱلۡمُتَّقِينَ) ژباړه:« کله چې هغه ورځ راشي، نو د پرهېزګارانو پرته نور ټول دوستان به يو د بل دښمنان شي»** او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر يو الله دی چې هيڅ شريک نلري، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلى الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قيامت تر ورځې پوري په نيکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

**و بعد:**

په حقيقت کې انسان پخپل طبيعت سره ټولنيز پيدا شوی دی، او په ټولنه کې ژوند کوي، او د ټولني څخه اغيزمن کيږي، او د خپل شخصي نښو سره د نورو څخه يي توپير کيږي او په ټولني اغيزه پريږدي، نو په همدي اساس ناسته او ولاړه او د نورو سره نږدې والي د انسان په فکر او چلند باندی روښانه او فعاله اغيزه لري، او دغه ناسته او ولاړه د هغه د ژوند او اخرت د خوشبختي او بدبختي لامل کيدلاي شي.

او بي له شکه مونږ يو مناسب او برابر شخصيت ته اړتيا لرو، چې د لوړو او غوره انساني او هيوادنۍ مفاهيمو خاوند وي، ترڅو زمونږ څخه داسی يو نسل پاتي شي چې جوړونه وکړي او ورانی دی نه رامنځته کوي، او ملي او هيوادنۍ ګټي پر هر نوري ګټي مخکې وګڼي.

او د اسلام مقدس شريعت ديته امر کوي چې بايد شخصيت سم جوړ شي، ترڅو دا شخصيت هوښيار، هدف لرونکي رامنځته شي، چې د ژوند ټول اړخونه درک کړي، او وکولاي شي د ژوند ټولو ستونزو ته يو مناسبه

لاره او حل پیدا کړي، او شر او فتنه اچوني څخه ځان وساتيﷺ لکه چې الله تعالی فرمايي: (وَٱتَّقُواْ فِتۡنَةٗ لَّا تُصِيبَنَّ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مِنكُمۡ خَآصَّةٗۖ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ شَدِيدُ ٱلۡعِقَابِ) ژباړه:« او له هغي فتني څخه ځان وژغورئ چي د هغې ناوړه اغيزه به په ځانګړي توګه یوازي پر هغو خلکو پوري محدوده پاته نه شي چي په تاسي کښي چا ګناه کړې وي. او وپوهېږئ چي الله سخت سزا ورکونکی دی».

همداسی شريعت ديته توصيه کوي چې انسان بايد د يو پياوړی مطمئن او بی له کوم ترديده لرونکی شخصيت ولري او د ګټي حقيقت درک کړي او حق ملاتړی وي، نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: روښانه مه اوسي، وايي چې: که چا مونږ سره نيکي وکړه مونږ د هغو سره نيکو کوو او که چا زمونږ په حق کې ظلم او بدي وکړه نو د هغه په حق کې ظلم او بدي کوو، ځانونه ملي او وطنی کړي، که خلکو نيکي وکړه تاسو هم نيکي وکړي او که ظلم يي وکړ نو تاسو پر هغوي ظلم مکوي.

او بی له شکه يو له مهمو امرونو څخه چې د انسان په شخصيت جوړوني کې لوي اغيزه او ونده لري هغه ملګري دي، ځکه انسان د فکر، اعتقادونو، چلند او کردار د خپل د ناستي او ولاړي ملګري څخه متاثره کيږي، او د هغه څخه رنګ اخلي او ددي خبري دليل شريعت، عقل، تجربه او ليدل شوي واقعيتونه دي.

نو په همدي اساس نيک ملګری د انسان په مناسبه شخصيت جوړوني کې ډير مهم رول لري، ځکه چې هغه د دين، هيواد او ټولنه کې ګټور دی، دا هغه موضوع ده چې نبي کريم (ص) خپل ياران په هغه روزلي دي، چې د هغو په لومړي سر کې ابوبکر صديق راځي چې يوه غوره نمونه او مثال په غوره وينا او نيک او وفادار ملګری دی، لکه څنګه چې د مکي خلکو هغه ته وويل: چې ستا ملګری ددی دعوا کوي چې په يوه شپه تر بيت المقدسه تللی او بيرته راغلی، هغه به ډير اعتماد او يقين سره د خپل ملګري محمد صلی الله عليه وسلم په هکله وفرمايل: که داسی خبره يي

کړیی نو حتما به یی ریښتیا ویلي يي، زه په هغه ددغه موضوع څخه ډیر تصدیق یی کوم، او د هغه خبره د اسمانونو په هکله تصدیقوم.
او دا هغه موضوع ده چې د پیغمبر (ص) یاران پرهغه ولاړ وو، او هغوي غوره پیشوا او غوره بیلګه د یو نیک ملګري دي، لکه څنګه چې د هغو ملګرتیا او دوستي د وروروليِ، ځان څخه تیریدنه، یووالي، اتفاق، مثبت او ګټور کارونه او مینه او محبت پر اساس ولاړ دی، نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمايي: پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمايي: د مسلمانانو نمونه او مثال په مینه محبت او مهرباني کې د بدن د غړو په شان دی، کله چې یو غړي په درد او عذاب وي نو ددی بدن نور غړي هم په ارام که نه وی.
په همدي ډول نیک ملګري په دنیا او آخرت کې د ډیرو برکتونو او فضیلتونو خاوندان دي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: الله تعالی ډیری داسی سیار او غوره ملائکي لري چې د ذکر او د الله یادوني مجلسونو په لټه کې دي، کله چې یو مجلس يي پیدا کړ چې په هغه کې د الله ذکر کیږي نو هلته کیني، او ځیني يي خپل وزري خوروي چې د هغو او د دنیا د اسمان ترمنځ فاصله نه یاتی کیږي او کله چې مجلس خلاص شو هغوي د آسان په لوري پورته کیږي نو الله تعالی د هغو نه پوښتنه کوي اګر که هغه په هر څه پوه دی: له کوم ځایه راغلي؟ هغوي وايي: ستا د بندګانو څخه راغلو چې په ځمکه کې ستا ذکر، تسبیح، تکبیراو حمد او ثنا یی ویله، او له تاڅخه يي غوښتنه کوله،وی فرمایل: زما څخه څه غواړي؟ ورته وایی: تانه ستا جنت واړي، فرمايي: ایا زما جنت يي لیدلي؟ وايي: نه ای زموږ ربه، فرمایی: نو څنګه به وي که زما جنت وګوري؟وايي: تانه پناه غوړي فرمایی: له څه نه مانه پناه غواړي؟ وایی: د دوزخ د اور څخه، فرمايي: ایا زما د دوزخ اور يي لیدلی؟ وایی نه فرمايي: نو څنګه به وي که زما د دوزخ اور وګوري؟ وايي: او ستا نه د مغفرت غوښتنه کوي، فرمایی: په ریښتیا سره هغوي ما بخښلي، او هر

څه چې غواړي هغوی ته ورکوم، او د هر هغه څه څخه چې پناه غواړي ورته پناه ورکوم، وايي: د هغو په منځ کې فلاني بنده ګنهګاره دی، کله چې د لارې څخه تیریدلو نو د هغو سره کيناسته، وی فرمایل: هغه مې هم وبخښلو، هغو هغه کسان دي چې ورسره ناست کس نه بدبخته کيږي.
او ځینې نور د نیک ملګري ګټي داداي چې هغوي د الله د مینې محبت او د جنت ته د وردننه کیدو لامل ګرځي، ابی هریره رضي الله عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: یو سړي وغوستل د خپل ورور سره لیدنه وکړي چې په بل کلي کي وسیده، نوو الله تعالی په لاره کې هغه ته یو ملائک ګماري کله هغه ته رسیږي نو ترې پوښتنه کوي چې غواړې چیرته ولاړ شې؟ وايي: غواړم خپل ورور ته ولاړم شم چې پدغه کلي کې اوسيږي، ورته وایی: آیا د هغه په نزد ستا کوم مال دی هغه غواړی ترلاسه کړی؟ وایی: نه، هغه ماته د الله د رضا پخاطر ګران دی، ملائک وايي: زه د الله له لوری تاته رالیږل شوی یم ترڅو تاته ددی خبر درکړم لکه څنګه چې ته خپل ورور خوښوی الله همغسي تا خوښوي.
په همدي ډول ښه ملګری ددی لامل ګرځي چې د قیامت په ورځ یوځآي حشر شي، انس بن مالک فرمایي: یو سړي د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه د قیامت په هکله پوښتنه وکړه چې کله واقع کيږی؟ نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: قیامت ورځي ته څه امادګي لری؟ وفرمایل: هیڅ هم نه،مګر دا چې الله او د هغه رسول سره مینه لرم، نبي کریم صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو دهغه چا سره حشر کیږي چې ته هغو سره مینه لری، انس رضي الله عنه فرمایي: نو زه دنبي کریم صلی الله علیه وسلم ابوبکر صدیق او عمر فاروق سره مینه لرم او امید لرم چې د ددغه مینه په واسطه د هغو سره ووسم، ګرکه د هغو په څیر نیک عمل هم ترسره نکړم.
الله تعالی دی امام شافعي رضي الله عنه ته ډیر خیر په برخه کړي چې فرمایي:

نيکوکارانو سره مينه لرم کرچه د هغو څخه نه وسم
خو شايد د هغو شفاعت لاسته راوړم******
د هغه چا نه کرکه لرم چې تجارت يې ګناه دی****
ګرچه مونږ د هغو سره په تجارت کې برابره ووسو***
همدا ډول ځيني نور د نيک ملګري ګټي دادي چې د الله تعالی د ياد او د ذکر لامل ګرځي، او دنيا او آخرت ښيګڼي رامنځته کوي، ابن عباس زضي الله عنهما فرمايي: يو چا د نبي کريم څخه پوښتنه وکړه: کوم د ناستی ملګري غوره دی؟ وفرمايل: هغه چي تاسو د الله تعالی ياد او ليدنی لامل ګرځي، او ستاسوو په علم او منطق اضافه کوي، او تاسو ته د آخرت د اعمالو ياد درکوي.
ښه ملګری د خپل ورور هينداره دی، تل هغه نيک کارونو کولو ته هڅوي، او بدو کارونو څخه يی منع کوي، او هغه څه هغه ته خوښوي چې خپل ځانته خوښ ګڼي، الله تعالی فرمايي: **(وَٱلۡعَصۡرِ إِنَّ ٱلۡإِنسَٰنَ لَفِي خُسۡرٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلۡحَقِّ وَتَوَاصَوۡاْ بِٱلصَّبۡرِ)** ژباړه:« په زمانه قسم دی؛ه يقيني ډول، انسان په لوي تاوان کښې دی، پرته له هغو خلکو څخه چي ايمان يې راوړی او ښه عملونه کوي او يو بل ته د حق نصيحت او د صبر ښودنه کوي.»، د انس رضي الله عنه څخه روايت دی چي نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي:خپل سره دی مرسته وکړه هغه که ظالم وي او که مظلوم، ومو ويل: ای د الله رسوله! که مظلوم وي مرسته به ورسره وکړو، او که ظالم وي نو څنګه به مرسته ورسره وکړو؟وی فرمايل: هغه ظلم کولو ته مه پريږدهو دا ستا مرسته د هغه سره ده.، دا هغه امر دی کله چې يو ملګري خپل دوست په بيلاري او د شيطان څخه په پيروي کې ګوري نو پری تطبيقوي او هغه ته نصيحت کوي، او هغه ته حقيقت بيانوي او هغه ته دا توصيه کوي چې داسی کار ترسره کړي چې هغه ته ګټور دی، او د الله تعالی څخه د لري والي د خطرونو څخه ورته خبرداری ورکوي، الله تعالی فرمايي: **(قَالَ لَهُۥ**

صَاحِبُهُۥ وَهُوَ يُحَاوِرُهُۥٓ أَكَفَرْتَ بِٱلَّذِي خَلَقَكَ مِن تُرَابٍ ثُمَّ مِن نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّىٰكَ رَجُلًا لَّٰكِنَّا۠ هُوَ ٱللَّهُ رَبِّي وَلَآ أُشْرِكُ بِرَبِّيٓ أَحَدًا وَلَوْلَآ إِذْ دَخَلْتَ جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ ٱللَّهُ لَا قُوَّةَ إِلَّا بِٱللَّهِۚ إِن تَرَنِ أَنَا۠ أَقَلَّ مِنكَ مَالًا وَوَلَدًا فَعَسَىٰ رَبِّيٓ أَن يُؤْتِيَنِ خَيْرًا مِّن جَنَّتِكَ وَيُرْسِلَ عَلَيْهَا حُسْبَانًا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِيدًا زَلَقًا أَوْ يُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَن تَسْتَطِيعَ لَهُۥ طَلَبًا وَأُحِيطَ بِثَمَرِهِۦ فَأَصْبَحَ يُقَلِّبُ كَفَّيْهِ عَلَىٰ مَآ أَنفَقَ فِيهَا وَهِيَ خَاوِيَةٌ عَلَىٰ عُرُوشِهَا وَيَقُولُ يَٰلَيْتَنِي لَمْ أُشْرِكْ بِرَبِّيٓ أَحَدًا)

ژباړه:« د هغه ګاونډي په خبرو اترو کښې هغه ته وويل: "ايا ته په هغه ذات کافر کيږې چې هغه، ته له خاورې او بيا له نطفې څخه پيدا کړې او ته يې يو بشپړ سړی جوړ کړې؟*پاته شوم زه، نو زما رب خو هماغه الله دی او زه له خپل رب سره هيڅوك نه شريک کوم.* او کله چې ته خپل بڼ ته ننوتلې، نو په هغه وخت کښې ستا له خولې څخه دا ولې را ونه وتل چې: مَاشَاالله، لا قوي الابالله (دا هم هغه شی دی چې الله غوښتی دی، د الله څخه پرته بل قدرت نشته)؟ - که ته ما په مال او اولاد کښې له خپله ځانه ټيټ وينې؛*نو ليري نده چې زما رب ما ته ستا له باغ څخه ډېر غوره را په برخه کړي. او ستا په باغ باندې له اسمان څخه کوم افت راولېږي چې په هغه سره سپېره ډاګ جوړ شي،* يا د هغه اوبه په ځمکه کښې پرېوځي او بيا ته هغه په هيڅ شان نشې را ايستلای."* په پای کښې داسې وشول چې د باغ ټوله مېوه تباه شوه او هغه د خپلو انګورو باغونه په څپرو باندې چپه غورځيدلي وليدل. په خپل لګښت باندې يې چې په هغه باغ کې کړی و، خپل لاسونه يو په بل ومښل او ويې ويل: "کاشکې! ما له خپل پروردګار سره څوك شريك نه وای ګڼلی."».

الله تعالی دی شاعر ډېر خير په برخه کړي چې فرمايي:

ستا واقعي ورور هغه څوک دی چې له تا سره وي***

هغه څوک چې ستا ګټې لپآره ځان ته ضرر رسوي***

هغه څوک چې هرکله زمانی تاته ستونزي رامنځته کړی***

هغه وخت کې ځان پراګنده کوي خو تا راټولوي****
په همدي ډول لکه څنګه چې نیک ملګري په دنیا او آخرت کې ښه اثرات لري، په همدی ډول سره بد او بیلاری ملګري هم د بد او ناوړه شخصیت جوړني کې رغنده رول لوبوي، نوپردی اساس یه دنیا او آخرت کې لوبیي او ناوړي پیلي لري، ځکه بدملګري لوړ ارزښتونه لمنځه وړي او نیک اخلاق فاسدوي، ځوانان او تنکي ځوانان فاسدوي، د کار او زحمت لاره ودروي، شایعي خپروي او فتنه رامنځته کوي، و بد ملګري هڅه کوي چې خپل ملګری په بدو او فاسدو عقایدو او خرابو فکرونو بیلاری کړی، قرانکریم مونږ ته په واضح ډول د بد ملګری بیان کوي او فرمایي: (**فَأَقۡبَلَ بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡض يَتَسَآءَلُونَ قَالَ قَآئِلٌ مِّنۡهُمۡ إِنِّي كَانَ لِي قَرِينٌ يَقُولُ أَءِنَّكَ لَمِنَ ٱلۡمُصَدِّقِينَ أَءِذَا مِتۡنَا وَكُنَّا تُرَابًا وَعِظَٰمًا أَءِنَّا لَمَدِينُونَ قَالَ هَلۡ أَنتُم مُّطَّلِعُونَ فَٱطَّلَعَ فَرَءَاهُ فِي سَوَآءِ ٱلۡجَحِيمِ قَالَ تَٱللَّهِ إِن كِدتَّ لَتُرۡدِينِ وَلَوۡلَا نِعۡمَةُ رَبِّي لَكُنتُ مِنَ ٱلۡمُحۡضَرِينَ أَفَمَا نَحۡنُ بِمَيِّتِينَ إِلَّا مَوۡتَتَنَا ٱلۡأُولَىٰ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ إِنَّ هَٰذَا لَهُوَ ٱلۡفَوۡزُ ٱلۡعَظِيمُ لِمِثۡلِ هَٰذَا فَلۡيَعۡمَلِ ٱلۡعَٰمِلُونَ**) ژباړه:« بیا به هغوی یو بل ته په مخ اړولو د حالاتو پوښتنه وکړي.* د هغو څخه به یو تن ووایي: "په دنیا کي زما یو ملګری ؤ *ما ته به یې ویل: «ایا ته له هغو تصدیق کوونکو څخه یې؟* ایا دا رښتیا ده چي کله موږ مړه شو، او خاوري شو او د هډوکو ډانچه شو، نو موږ ته به سزا او جزا راکړه شي؟»*اوس ایا تاسي د هغه (د حق منکر) د حال څخه خبرېدل غواړئ؟"*له دې ویلو وروسته چي څنګه هغه لاندي وګوري، نو د دوږخ په تل کي به دغه (د حق منکر) ویني؛*و هغه ته (به د ملامتیا په ډول) ور ږغ کړي: "په خدای قسم، تا خو زما تباه کول غوښتل؛* که زما د رب فضل را باندي نه وای، نو نن به زه هم له هغو کسانو څخه وم چي نیول شوي، راوستل شوي دي.* ښه نو، اوس (دا یقیني نده چي) موږ (جنتیان) له مړه کېدونکو څخه نه یوو؟*کوم مرګ چي موږ ته راتلونکی ؤ، هغه خو مخکي راغی، اوس به موږ ته هیڅ عذاب نه وي؟"* په یقیني ډول همدغه

ستر بریالیتوب دی.* د همدغسي بریالیتوب لپاره باید عمل کوونکي عمل وکړي».
الله تعالی په بل آیت کې فرمایي: **(وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا لَّقَدۡ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكۡرِ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَنِيۗ وَكَانَ ٱلشَّيۡطَٰنُ لِلۡإِنسَٰنِ خَذُولٗا)** ژباړه:« ظالم انسان به خپل لاسونه چیچي او وایي به: "کاشکې ما د پېغمبر ملګرتیا کړې وای؛*هی زما بده بخته، کاشکي ما فلانی سړی په دوستۍ سره نه وای نیولی،*هغه تیر ایستلم، هغه نصیحت مي ونه مانه چې ما ته راغلی ؤ. شیطان د انسان په حق کښې ډېر زیات بې وفا غولوونکی ثابت شو».
په همدي ډول بد ملګری د ویجاړی او ظلم لامل پخپل نفس او نورو ګرځي، او د هغو نه ترټولو خطرناکه هماغه دی چې هڅه کوي ترڅو تا هم دغه ویجاړګر او بی لاری او منحروفو ډلو سره یو ځای کړي او هغوي تا د د ځمکي د ویجاړي فساد او لمنځه وړني ته وهڅوي، او هغه څوک چې هڅه کوي تا په وینا او کردار سره مخدره توکو ته وهڅوي او معتاده کړي، ځکه دوي هغه کسان دي چې انسان د هلاکت او د الله تعالی غضب سره په دنیا او آخرت کې مخامخ کوي.

## اقول قولی هذا و استغفرالله لی ولکم

*********

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.
**ډیرو درنو مسلمانانو ورونو:**
پرمونږ ټولو لازمه ده چې ځانونه د بد او خراب ملګرو څخه وژغورو او هغه سره تعامل ونکړو الله تعالی فرمایي: **(وَقَدۡ نَزَّلَ عَلَيۡكُمۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ أَنۡ إِذَا**

**سَمِعۡتُمۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ يُكۡفَرُ بِهَا وَيُسۡتَهۡزَأُ بِهَا فَلَا تَقۡعُدُواْ مَعَهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦٓ إِنَّكُمۡ إِذٗا مِّثۡلُهُمۡۗ إِنَّ ٱللَّهَ جَامِعُ ٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱلۡكَٰفِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا)** ژباړه:« الله په دې کتاب کښې، تاسي ته پخوا امر کړيدی چي که په هر ځای کښي واورئ، چي د الله د ايتونو پر خلاف اواز پورته کيږي او مسخرې ور پوري کيږي، هلته مه کښينئ، تر هغه چي خلك په کومه بله خبره کښي مصروف شي. اوس که تاسي داسي کوئ، نو تاسي هم د هغو په څېر ياست. باور ولرئ چي الله منافقان او کافران په دوږخ کښي يو ځای راغونډوي» او په بل آيت کې فرمايي: **(وَإِذَا رَأَيۡتَ ٱلَّذِينَ يَخُوضُونَ فِيٓ ءَايَٰتِنَا فَأَعۡرِضۡ عَنۡهُمۡ حَتَّىٰ يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيۡرِهِۦۚ وَإِمَّا يُنسِيَنَّكَ ٱلشَّيۡطَٰنُ فَلَا تَقۡعُدۡ بَعۡدَ ٱلذِّكۡرَىٰ مَعَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ)**ژباړه:« او [اې محمده (ص)!] کله چي ته هغه خلك وينې چي زموږ په ايتونو کښي نقطې لټوي، نو د هغو له څنګ څخه پاڅېږه، تر دې پوري چي هغوی دا بحثونه پرېږدي، په نورو خبرو پيل وکړي. او که کله شيطان تا په هېره کښي واچوي، نو چي څه وخت دا خطا احساس کړې، له هغه وروسته بيا ددې ظالمانو څنګ ته مه کښېنه»، او نبي کريم صلی الله عليه وسلم فرمايي: انسان د خپل ملګري په دين وي، نو بايد ټول د تاسو پردي پام ولرئ چې څوک ملګری ټاکی، او همداسی فرمايي: بی له مؤمن څخه بل چا سره ملګرتيا مکوه، او نبايد ستا خواړه بغير د کوم پرهيزګاره شخص وخوري.، حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمايي: انسانان د هغو د ملګرو څخه وپيژنی، ځکه انسان هغه څوک خپل ملګری ټاکي چې هغه ورته ګران وي او د هغه نه متاثره وي.

الله دی شاعر ته خير ورکړي چې فرمايي:

کله چې د خلکو په منځ کې اوسيږي نو د هغو نه غوره خپل ملګری وټاکه**

پست او ذليل ملګری مه غوره کوه داسی نشي چې ذليل سره ته هم ذليل شی***

د شخص په هکله پوښتنه مکوه بلکي د هغه د ملګري په هکله پوښتنه وکړه****
ځکه هر ملګري خپل ملګري ته اقتدا کوي***
مونږ پردی تاکید کوو چې د شخصیت جوړنه دملګري له لاري د ټولني ګډ مسئولیت دی، باید ټولني هغه ته پاملرنه وکړي، او ټول باید ددغه مسئولیت لویوالي ته متوجه شي، نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:تاسو ټول د شپونکې په څیر یاست، او دخپل رعیت مسئول،پاچا د خپل د رعیت مسئول او شپونکی دی، سړی د خپل کورني شپونکی او مسئول دی، ښځه د کور شپونکي او د رعیت مسئوله ده، او خادم یا غلام د خپل د بادار د مال شپونکی او د خپل رعیت مسئول دی.، نو باید د بچیانو او ځوانانو په ورزنه کې د کورنیو، مدرسو جماتونو او ټول روزنیز او فکري رسنیز مرکزونو ته په اول کې پام وکړو، او یو له بل سره هڅه وکړو ترڅو ځوانان د تندرو فکري ډلو چې د ویجاړی مفکوره لري د تاثیراو اغیزو څخه یي وژغورو، او کوښښ وکړو چې د ځوانانو په ذهن او فکر کې د ملي او د وطندوستي حس ته ځاي ورکړو، نو د اولادونو او د ځوانانو روزل او د هغو لپاره د غوره ملګري پیدا کول زمونږ ټولو پر غاړه یو لوي او خطرناکه مسئولیت دی. الله تعالی فرمایي:
**(يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قُوٓاْ أَنفُسَكُمۡ وَأَهۡلِيكُمۡ نَارٗا وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُ عَلَيۡهَا مَلَٰٓئِكَةٌ غِلَاظٞ شِدَادٞ لَّا يَعۡصُونَ ٱللَّهَ مَآ أَمَرَهُمۡ وَيَفۡعَلُونَ مَا يُؤۡمَرُونَ)**ژباړه:« اي مؤمنانو! خپل ځانونه، خپل اولاد او کورنۍ له هغه اور څخه وژغورئ چې د سون مواد به يې انسانان او تيږي وي؛ پر هغه به غوسه ناکي، سخت زړي پرښتې څارونکي وي، چې هيڅکله به د الله له حُکم څخه سر نه غړوي او هر امر چې ورته کيږي، هغه به په ځای راوړي»، او پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایي: الله تعالی د ټول راعیانو او شپونکیانو څخه پوښتنه کوي چې آیا د خپل رعیت ساتنه کړی او که

ضایع کړی دی ده؟حتي تردي چې یو کس د خپل د کور مسئول وي پوښتنه تری کیږي.
یا الله! مونږ ته ښه او نیک ملګري راپه برخه کړي، او هغوي ګټي مونږ ته ورسوي.